Baghlan University Academic Research Journal
https://baghlan.edu.af/ Vol. 13, Issue. 1, Serial No. 36 (2025) 31-44

# Imaginary Imaginative Colors in the Poetry of Pir Muhammad Karwan

**Feda Mohammad Fedai**
Department of Pashto Language and literature, Literature Faculty, Baghlan University, Afghanistan.

**Corresponding Author:** Feda Mohammad Fedai, **E-mail:** fedam0484@gmail.com

**Article Info**

**Article Type:** Research Article

**Article History:**

**Received:** 9, February, 2025

**Accepted:** 22, March, 2025

**Published:** 15, June, 2025

**ABSTRACT**

In the beginning of this article, imagination is introduced as the fundamental element of poetry. Following that, the concept of imagination is explored and discussed. Then, the purpose of imagination is described and analyzed descriptively. Subsequently, views on the elements of imagination are presented, and each element is defined one by one. Finally, in the selected poems of Karwan. The imagination and the main elements found in Karwan poetry. Additionally, the goals and significance of imagination in Karwan's poems will be discussed, along with an understanding of the more artistic aspects of imaginative construction. Moreover, the literary status of Pir Muhammad Karwan's poetry in contemporary poetry will be highlighted. The findings will help us know how artistic Mr. Karwan's poetry and how he has made his poetry thoughtful and impactful through the use of various imaginative elements. Besides, it has been explored how imagination is practiced and will help learners understand imagination in literature practically. In each ghazal, the imagination is enchanted. Karwan has thread imagination in the modern poetry of Pashto.

**Keywords:** Imagination, Colors, Caravan, Poem, Metaphor.

To cite this article: Fedai, F. M. : 2025. Imaginary Imaginative Colors in the Poetry of Pir Muhammad Karwan. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 13, Issue. 1, Serial No. 36 - Spring (2025), 31-44. License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.

Publisher: University of Baghlan

د بغلان پوهنتون علمي او څېړنيزه مجله

مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان

https://baghlan.edu.af/ Vol 13. Issue. 1, Serial No. 36 (2025) 31-44

# د پیرمحمد کاروان په شاعرۍ کې تخیلي رنګونه

پوهنمل فدامحمد فدايي

د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي، د پښتو ژبې او ادب څانګه.

| اطلاعات مقاله | لنډيز |
| --- | --- |

نوع مقاله:
مقاله علمی- تحقیق

تاریخ دریافت:
۱۴۰۳/۱۱/۲۱ هـش

تاریخ پذیرش:
۱۴۰۴/۱/۲۲ هـش

تاریخ انتشار:
۱۴۰۴/۰۳/۲۵ هـش

د دې مقالې په پیل کې تخیل، د شعر اساسي توکی معرفي شوی دی، ورپسې د تخیل د توکو په هکله د ادبپوهانو نظرونه وړاندې شوي دي او د تخیل توکي یو په یو تعریف شوي دي. په پای کې د کاروان په غوره شوو شعرونو کې دغه توکي د پلټنې په پایله کې موندل شوي دي. همداراز د کاروان په شعرونو کې د تخیل له هدف او اهمیت څخه به خبر شو. د دې ترڅنګ به د تخیل جوړونې د ډېر او لږ هنري څواک لرونکو عناصرو په هکله به پوه تر لاسه کړوو. همداراز د پښتو ژبې په معاصره شاعرانه نړۍ کې به د پیر محمد کاروان د شاعرۍ ادبي مقام څرګند شي. وبه پوهېږو، چې دغه شاعر د څومره ادبي او هنري څواک څښتن دی او هم دا چې د تخیل د کومو توکو پر مټ يې خپله شاعري طوفاني او څپانده کړې ده. د دې تر څنګ به د عمل په ډګر کې د تخیلي توکو د تطبیق ننداره وکړو. دا مقاله به د څانګې له محصلینو او د ادب له منوالو سره په عملي کار کې مرسته وکړي.

**کلیدي کلیمې:** تخیل، رنګونه، کاروان، شعر، استعاره، کنایه،لفظونه.

استناد: فدايي، فدامحمد. (۱۴۰۴)، د پیرمحمد کاروان په شاعرۍ کې تخیلي رنګونه، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۱، بهار (۱۴۰۴)، شماره مسلسل ۳۶، دوره۱۳. (۳۱-۴۴) .
ناشر: پوهنتون بغلان.

**سریزه**

څرنګه چې شعر یوه انځوریزه حسي تجربه ده، چې مقابل لوری اغېزمنوي او له ځانه سره یې په تجربو کې ګډوي. او ان تر دې پورې، چې الفت صاحب ړندې سترګې د خیال په مټ په کار اچولي، دی وایي: «که په شعر او ادب کې له خیال او تخیل څخه کار واخېستل شي او له خیال نه استفاده وشي، له ړندو سترګو نه هم اوښکې تویوي او له کاڼو نه سخت زړونه نرموي.» (الفت، ۲۰۱۲: ۳۳۵). همداراز د ارواپوهنې په اساس له حواسو سره د شیانو د مخامخېدو په نتیجه کې، چې په ذهن کې کوم صورت او شکل پیدا کېږي په شعر پېژندنه کې هغه احساس یا حسي ادراک، بولو؛ خو کله چې دغه ذهني صورتونه له شیانو سره د مخامخېدو پرته په ذهن کې پیدا شي، د خیال یا جزیي تصویر په نوم یې یادوو. په دې حساب خیال له حافظې راوځي؛ خو زموږ حافظه د کمپیوټر د حافظې غوندې نه‌ده، چې په کې ثبت شوی انځور هر ځل د لومړی ځل غوندې راوښيي... په اوولسمه میلادي پېړۍ کې انګرېز مفکر هابس وویل: «چې د خیال سرچینه حافظه ده او حافظې ته هرڅه د حواسو د دروازو په لاره ورځي. ده ویلي دي د تخیل استعداد د تکړه سپي غوندې د لیکوال د حافظې په کرونده کې ښکته پورته ځغلي، چې خپل ښکار پیدا کړي» د کاروان شاعري لکه زرغون د بوډۍ ټال؛ هغه له ظاهري رنګونو او دا له تخیلي رنګونو مالا ماله ده؛ خو مخکې تر دې پر تخیل غږېږو. د ادبپوهانو خولو ته کېنو، چې د خیال/ تخیل په هکله د دوی برداشت څه دی؟ په دې وروستیو کې د شعر په هکله دا تعریف ډېر منل شوی دی، چې: په اهنګواله ژبه د مفکورې او تخیل عاطفي ترکیب شعر دی. د شعر لپاره یې څلور توکي لازم بللي: اهنګواله ژبه، مفکوره، عاطفه/ احساس او تخیل» (غضنفر، ۱۳۹۳: ۴۵۴،۴۵۱). د تخیل په اړه ښلا ښلو لیکوالانو کتابونه اومقالې لیکلي دي ؛ خو د کاروان صاحب د شعرونو په اړه دا ډول لیکنې ډېرې لېږ دي، څرنګه چې د کاروان صاحب شاعري له تخیلي رنګونو ځنې مالامال ده؛ نو دا برخه نورو ډېرو څېړنو ته اړتیا لري.

له دې څېړنې څخه موخه دا ده، چې د پښتو ځانګې محصلین او د ادب مینه‌وال به دا وپېژني، چې تخیل د شعر تر ټولو اساسي توکی دی. په شعرونو کې د تخیل له هدف او اهمیت به خبر شي. او هم به د تخیل جوړونې د ډېر او لږ هنري ځواک لرونکو عناصرو په هکله پوهه تر لاسه کړي. ورسره به د پښتو ژبې په معاصره شاعرانه نړۍ کې د پیر محمد کاروان د شاعرۍ ادبي مقام ورجوت شي. وبه پوهېږي، چې دغه شاعر د څومره ادبي او هنري ځواک څښتن دی او هم دا چې د تخیل د کومو توکو پر مټ یې خپله شاعري طوفاني او څپانده کړې ده. د دې تر څنګ به د عمل په ډګر کې د

تخيلي توكو د تطبيق ننداره وكړي. دا مقاله به د ځانګې له محصلينو او د ادب له مينوالو سره په عملي كار كې مرسته وكړي.

**د څېړنې میتود**

په دې مقاله كې دڅېړنې ډول كتابتوني او روش يې تشريحي او تحليلي دی.

**د تخيل په اړه د پوهانو نظرونه**

په (زاهد پښتو– پښتو سيند) كې تخيل داسې مانا شوی: «تخيل: انګېرل، تصور، خيال، ګومان، په خيال كې راګرځول.» (زاهد، ۲۰۱۰: ۲۱۸). استاد ازمون ليكي: « ... وزن او اهنګ د لفظونو داسې منظم او منسجم حركت دی، چې ژبه له عادي حالته اړوي. د ژبې له عادي حالته اوښتل هم د تخيل او تصور كار دی» (ازمون، ۱۳۹۷: ۱۸۳). بل ځای ليكي: « تخيل په لاشعور او شعور كې هغه قوه ده، چې ځرګندول يې حقيقت نه بلكې مجازي كيفيت دی. په شعر كې داسې وړاندې كېږي، چې حقيقي نه‌وي...» (هماغه ، ۱۳۹۷: ۱۸۷) . ډاكتر احسان الله درمل ليكي: « تخيل هغه ځواك دی، چې په حافظه كې د خورو ورو تصوراتو تر منځ نوي اړيكې كشفوي او يو داسې نوی تركيبي شكل او تصوير ترې جوړوي، چې په بهرنۍ نړۍ كې يې زموږ ورځنۍ منطق نه مني، خو هغه يوازې په شاعرانه ذهن او ذوق ليدلی او خوند ترې اخېستلی شو» (درمل، ۱۳۹۵: ۲۲). د تخيل پېژندنې په اړه پورتني نظرونه موږ ته دا را ښيي، چې هركله ژبه ـ د دروني حسي ادراكاتو د بيان لپاره ـ د حقيقي او وضعي مانا پر ځای د دويمې يا مجازي مانا لپاره وكارول شي، همدا د شاعرانه خيال/ تخيل كار دی. د خيال، تخيل، تخييل، تصوير، تصور او د تخيل د ډولونو په هكله غږېدنه يو بېل بحث دی، چې د موضوع د اوږدوالي له سببه ورځخه تېرېږو. ادبپوهان د تخيل د موخې او دندې په تړاو تقريباً يو شان نظرونه لري.

« كه په شعر او ادب كې له خيال او تخيل څخه كار واخېستل شي او له خيال نه استفاده وشي، له ړندو سترګو نه هم اوښكې تويوي او له كاڼو نه سخت زړونه نرموي.» (الفت، ۲۰۱۲: ۳۳۵) . « ... د يوه فيلسوف تخيل د مسايلو په حل كولو او تحقيق كې صرفېږي، خو د يو شاعر تخيل د احساساتو او عواطفو د تحريك لپاره په كار لوېږي» (الفت، ۲۰۱۲: ۴۲۲) . «شعر هله زړه راښكون پيدا كوي، چې تصويري او انځوريز شكل پيدا كړي...» (ناګار، ۱۳۹۵: ۱۳). « په دې ځرګندونو كې شعر يوه انځوريزه حسي تجربه ده، چې مقابل لوری اغېزمنوي او له ځانه سره په تجربو كې ګډوي. د دغو حسي اغېزناكو او اغېز ښندونكيو انځورونو لپاره كلمې يا لفظونه په قالب كې اچول دي. كوم قالب؟

یاد شوی نه‌دی، مطلب یې د لفظونو داسې ځای پر ځای کول او پېیل، چې مجاز یا تخییل په اهنگ کې وړاندې کړي. دلته اوس تخییل او اهنگ د اغېزمنتیا اسباب شول.» (ازمون، ۱۳۹۷: ۱۸۳). د نتیجې په توگه وایو، چې د تخیل موخه او دنده د کلام او بیان اغېزناکه کېدل دي. تخیل فکر په اغېز ښندونکي انداز کې وړاندې کوي.کلام ته ښکلا او جذابیت ښښي. لوستونکي او اورېدونکي تر درانه تاثیر لاندې راولي. ارواوو ته طوفاني خوشالي او یا ژور درد ورکوي. احساسات او عواطف لړزوي. په زړونو کې هیجان پیدا کوي. ادبپوهانو د تخیل د توکو په هکله هم تقریباً سره یوه خوله دي، خو توپیر هم تر سترگو کېږي: استاد الفت د مبتکر خیال په تعریف کې وایي: « دا هغه شی دی، چې د انسان ادراکاتو ته یو نوی صورت ورکوي او اکثره شاعران یې د تشبیه او استعارې په ډول پخپل کلام کې پیدا کوي.» (الفت، ۲۰۱۲: ۴۱۸). «... د خیال په زیږېدلو کې تداعي لوی لاس لري. له تداعي څخه منظور دا دی، چې یو شی، بل شی راپه یاد کړي... تداعي معمولاً له دریو لارو رامنځته کېږي: مجاورت، مشابهت او تضاد. تروږمۍ شاید سپوږمۍ او د سپوږمۍ رڼا د ډېوې لمبه او د ډېوې لمبه پتنگ راپه‌یاد کړي.» (غضنفر، ۱۳۹۳: ۴۵۴).

« د خیال انځورونو په باره کې بحث د شعر د هنر تر ټولو مهم بحث دی. زموږ په دودیزه ادبپوهنه کې تشبیه، استعاره، کنایه او مرسل مجاز د انځور جوړونې څلور اصلي ذریعې بلل کېږي... که د تخیل په اړه د کالریج د نظریې په رڼا کې دغه څلور ذریعې پرتله کړو، ویلای شو، چې مرسل مجاز او کنایه د استعارې او تشبیه په اندازه خیال پارونکي نه‌دي.» (غضنفر، ۱۳۹۳: ۴۵۷). « دا څرگنده خبره ده، چې بیان له تشبیه، استعارې او کنایې څخه بحث کوي او همدا توکي دي، چې معقول محسوس ته راولي، تجسم ورکوي او ښکلی انځور جوړوي»(ناگار، ۱۳۹۵: ۱۰) .

«پخوا یې د بیان د علم موضوع درې شیان: تشبیه، مجاز او کنایه گڼلي و. مگر دا، چې بیان د یوې معنا دلالت په بېلابېلو لارو راښیي، نو د خیال متفاوت او سره جلا صورتونه دي ، چې د هغه په وسیله یو مفهوم یا معنا په بېلابېلو ډولونو بیانولای شو، نو پر دې اساس په معاصره اصطلاح تصویر، سمبول، او اسطوره هم د بیان علم د بحث موضوعات تشکیلوي.»(شیرزاد، ۱۳۹۵: ۲۲۰). استاد ازمون پخپل اثر (پښتو نظم‌پوهنه) کې د تخیل توکي په مفصل ډول تشریح کړي دي. ده تشبیه، استعاره، تشخیص، پاراډاکس، تمثیل، حس امېزي، کنایه، سمبول، اسطوره، حسن تعلیل او... د تخیل توکي معرفي کړي دي. ډاکټر احسان الله درمل لیکي: « تخیلي انځورونه په ساده بڼه د تشبیه په جامه کې راڅرگندېږي؛ په لږه پېچلې بڼه د استعارې او د مجاز د نورو ډولونو( مرسل مجاز او د ځینو په نظر کنایه) رنگ اخلي؛ تر هغې هم په لا پېچلې بڼه د سمبول وړوکی پوښ اغوندي او بالاخره د دې پېچلتیا سر تر

اسطورې رسېږي.»(درمل، ۱۳۹۵: ۳۴). «د بیان په تخیلي برخه کې تشبیه،استعاره، سمبول، تشخیص، پاراډاکس، تمثیل، حس امېزي، مرسل مجاز راځي...»(ازمون، ۱۳۹۸: ۳۰۹).

اوس به راشو د کاروان په شاعرۍ کې به د دغو توکو پلټنه وکړو.

په هر غزل کې یې رنګونه جادوګر جادوګر

کاروان ولجه کړله د خیال د جادوګرو ببرۍ

(کاروان، ۱۳۹۸: ۵۵٦)

( د خیال د جادوګرو ببرۍ) اضافي مؤکده تشبیه ده. خیال د جادوګرو له ببرۍ سره ورته شوی. جادوګر رنګونه د تخیل جوړونکو توکو لپاره استعاره ده. د غزل او خیال کلمې هغه قرینې دي، چې زموږ فکر دویمې مانا ته بیایي. جادوګر د افسون/ سحر په واسطه خلك حیرانوي او حقیقت بل ډول ورته ښیي. همداسې شاعر د تخیل پر مټ د یو شي اصلي څېره بل رقم ظاهروي.

اغـزي پاتې، ګلـــــونه د غزل، بادونو یووړل

د شاتـــــو د مچیو په شان توري رانه مړه شول

***

زمونږ د سر هنـــــــــدارې یې په کاڼو وویشتلې

کاروانه د غزل د جینـــــــــکو کالي زاړه شول

(کاروان، ۱۳۹۸: ۲۹۰)

اغزي او ګلونه د **تضاد** صنعت دی. د غزل ګلونه **اضافي موکده تشبیه** ده او هم توري د شاتو له مچیو سره ورته شوي دي. غزل د ګلونو غوندې روح معطر کوي. د غزل توري د شاتو د مچیو غوندې خوږلنې تولیدوي. د دغو مشترکاتو پر اساس شاعر د **تشبیه** لمن نیولې ده. له اوښکو او موسکا څخه د کالیو جوړول یو **پاراډاکس** دی. دوه متضاد صفتونه سره یو ځای شوي او یو درېیم حالت یې اختیار کړی دی. د غزل جینکۍ **اضافي موکده تشبیه** ده. غزل د جینکو په څېر عاطفي کشش لري، ځکه شاعر مجبور شوی چې غزل ته د جینکو نوم واخلي.

سترګې رنځـــورې وایه څه په زړه لرې نرګسه؟

تا هم لیدلې د کـابل زېړې څـــــېرې نرګسه؟

زېړه څـېره، رنځورې سترګې لـــه لمر د غروب

په مازدیـــګر کې درته چا وکړې ښېرې نرګسه؟

چا درته وې د سپېدې پېغله مرې د مینې په تور ؟

چې شوې را کوږ لکـــــه جنډه د هدیرې نرګسه
روح په مئینو بلبـــــــــلانو پسې چېرته یوسم؟
ډېوې دي مړې تورې تیارې دي راخوارې نرګسه
شپه نیمه شپه ده راځه تش کړو سره ډک زړګوټي
بیـــــا به نه ته وې نه کاروان نه یې مسرې نرګسه
(کاروان، ۱۳۹۸: ۲۴۶).

دلته نرګس د **تشخیص** پر مټ **سمبول** ګرځول شوی دی. سمبول له استعارې سره ګڼ توپیرونه لري؛ ډېر مهم یې دا چې استعاره د یوې کلمې او سمبول د یو فکر ځایناستی دی. استعاره یو او سمبول ګڼ تعبیرونه لري. استعاره صریحه او محدوده، سمبول ګونګ او نامحدود دی. استعاره لنډه شوې تشبیه ده، سمبول د مفاهمو او تصوراتو منشأ. استعاره بهرنۍ قرینه لري؛ خو سمبول مبهم وي او جوته قرینه نه‌لري. دلته نرګس د حقیقي مانا (ګل) لپاره نه‌دی استخدام شوی؛ بلکې د دویمې مانا پېټی یې پر اوږو بار دی. دا نرګس سترګې لري، د کابل ژېړې څېرې یې لیدلي دي. شاعر ورغبرګې، دی ورته غوږ دی. څېرې د انسانانو لپاره **مرسل مجاز** دی. د انسان د بدن جزا ذکر شوی، مطلب ورڅخه ټول انسان دی. همدارنګه ژېړې څېرې **کنایه** ده. هم د ژېړ مخ مانا لېږدوي او هم مطلوبه مانا( د کابل جنګي او له وېرې ډک حالت) راښیي. ځکه چې د وېرې، غمونو او دردونو له کبله څېرې ژېړېښنې کېږي. بیا همدغه نرګس د غروب له لمر سره **تشبیه** شوی. علت د دواړو د څېرو ژېړوالی ښودل شوی دی. له بل پلوه **عارفانه تجاهل** شوی. شاعر په لوی لاس ځان ناګاره اچولی، چې د نرګس څېرې او سترګو د یو چا د ښېراوو له کبله ژېړ او د رنځورۍ رنګ اخیستی دی. د سپېدې پېغله **اضافي مؤکده تشبیه** ده. روښنايي او تازه‌ګي یې د تشبیه وجه ده. فناکېدل یې په مرګ سره تعبیر شوي، هغه هم د مینې په تور. چې له درد او غمه یې نرګس د زیارت د جنډې غوندې کوږ شوی. شاعر **حسن تعلیل** ادبي صنعت کارولی. د نرګسي ډنډر د کوږوالي لپاره یې یو مناسب علت موندلی. هسې خو طبعاً د نرګس ډنډر قوس غوندې وي، خو شاعر یې دغه کوږوالی د سپېدې پېغلې د مرګ په سبب د درد او غم له کبله ګڼلی، چې د مینې په تور مړه شوې ده. همدغسې مئین بلبلان، ډېوې، تورې تیارې نور هغه **سمبولونه** دي، چې هر یو یې د دویمې ژبې په توګه کارېدلی دی. ډک زړه تشول د بزم او مجلس لپاره د **کنایې** چار پر ځای کوي.

بیـا دې شه د مور شیدې سور لال تاج د شاهیو
غـــوځ اووه سرونه د وختونو له ښـــــــامار کا

بیا به د ژوند خـــوب د یار د لېچو پر سر وکړي
لړ دې سر لــــلو للو په لېــــــــچو کې د دار کا
پنډېې په ګودر کې شه کـــوترو غوندې نجونې
لمـر چې لکه باز وزرې ټيټې پر چنـــــــــار کا
څلـــــــه ښـــــکلوې راباندې پښې د زيارتونو؟
خـــداى خـــــو دې په خامه بهانه راسره يار کا
(کاروان، ۱۳۹۸: ۳۳۸) .

د مور شيدې د ماشوم لپاره اب‌حيات وي، چې د ژوند د بقاء لپاره **کنايه** ده. په افسانوي جهان کې سور لال ډېر ګران بيه غمی ياد شوی، چې ښامار به پرې ولکه لرله. د بشريت په تاريخ کې تاج د پاچاهۍ نښه وه. اووه سرى ښامار د جابر او ظالم لپاره **اسطوروي استعاره** ده، چې د وخت کلمه زموږ ذهن دويمې مانا ته انتقالوي. شاعر مخاطب ته وايي، چې کله ظالم له منځه يوسې بيا که د لعل او تخت څښتن هم شې، درسره ښايي. په دويمه مسره کې ابدي ژوند ته اشاره ده، ځکه کله چې سر پر دار ځړېږي، نو دنياوي ژوند پای مومي. يار د **سمبول** په حيث راغلی. دار ته لېچې ورکول **تشخيص** دی. په دار کې للو کړل د پنسۍکېدو لپاره **کنايه** ده. دا بل ځای نجونه له کوترو سره **تشبيه** شوي او د ډوبېدونکي لمر وړانګې د غوټه وهونکي باز له وزرو سره ورته شوي دي. پښې ښکلول د زاريو لپاره **کنايه** ده. له زيارتونو غوښتنې د شاعر د ټولنې د عقيدې عکس دی.

د کابل پر ښــــــــــاپېريو مې زړه سوځي
ته به وايې نښتېــــــــــــځلي سنترې دي
د کاروان په لاس کې شعر دی او شراب دي
د ښېـــــــــــخانو په لاسونو کې دُرې دي
(کاروان، ۱۳۹۸: ۳۴۴) .

ښاپېرۍ **اسطوروي استعاره** ده، چې فوق‌البشري ښکلا تصويروي. د کابل کلمه زموږ ذهن مقصودې مانا(د کابل نجونو) ته بيايي. زړه سوځېدل د ترحم راتللو لپاره **کنايه** ده. د کابل نجونې، چې د وېرې، تکليفونو او غمونو له وجې ډنګرې شوي او رنګونه يې ژېړ شوي دي، د نښتېځل شوو سنترو سره **تشبيه** شوي دي. په بله مسره کې د **تضاد** صنعت راغلی. شعر او شراب په ژوند کې لذت او مستي پيدا کوي. دُرې له ژونده خوندونه تروړي.

په نانځکو کې دیوانو کـــــــــمین ونیؤ
له مــاشوم نه یې رنګینه دنیـــــــــا یووړه
د سور خولي ماشوم لاس په وینو سور دی
د حـــــــــالاتو تور کارغه ترې پاپا یووړه
(کاروان، ۱۳۹۸: ۳۸۵) .

نانځکې او دیوان دواړه د خیالي نړۍ لوبغاړي دي. د ماشومانو جهان پخپله یو تخیلي جهان دی او نانځکې د دغه جهان کرېکټرونه. له دیوانو سره په دومره توپیر، چې نانځکې مجسمې شوي دي. دیوان د افسانوي نړۍ زورور او ظالم مخلوق دی. نو دا بیت د **اسطوروي سمبولونو** پر مټ تصویر وباسي. له نانځکو سره مینه کېږي او له دیوانو کرکه، نو **تضاد صنعت** دی. د حالاتو تور کارغه بل سمبول دی، چې ښایي د جابرانو، پردیو، زورورو، ښکېلاکګرو، مردار خورو... ماناوې ترې واخېستل شي. د ماشوم او نانځکو له سمبولونو څخه د افغانستان مظلوم ولس، د نړۍ بېوزله خلك، د وطن نجونې ... مطلبونه اخځ کېدلی شي. پاپا(مړۍ) د بېوزلانو د ژوند امکانات او روزي ګڼلی شو.

زلزله شوه د اومو خښتو دیــــــوال دی
هله هله زړه مې ونیســــــه غورځېږي
له شبنم نه د منـــــــــګیو ډکول دي
په خبرو دې مئین کـــــــــله مړېږي
غـمازان دې که کوځې ته راځي خیر دی
ښــاماران خو له چندڼ څنـــې تاوېږي
(کاروان، ۱۳۹۸: ۷۶۲) .

زلزله د یار لیدلو یا غمونو لپاره **سمبول** دی. زړه د اومو خښتو له دیوال سره **تشبیه** شوی. وجه شبه یې د بهرني عامل پر وړاندې کمزوري راوځي. د معشوق خبرې له شبنم سره او مئین له منګیو سره **ورته** شوي. د شبنم او خبرو ګډه صفت نرمي او تازه‌ګي ده، د مئین او منګي تر منځ شریکه وجه ظرفي حالت دی. مئین(کُل) ذکر شوی، مطلب ورڅخه د مئین زړه/روح(جزا) دی، چې دا د **مرسل مجاز** اړیکه ده. غمازان له ښامارانو سره **تشبیه** شوي. د چندڼ سپنه ونه د معشوق لپاره استعاره ده.خطابیه انداز قرینه ده، چې زموږ ذهن دویمې مانا(معشوق) ته انتقالوي.

ښکاري مینه یې سپېره او کور یې ړنګ دی
دا چې بیا راوتی وچې ته نهنـــــــــګ دی

دا نازک زلمي په اور ورگــــــڼېدی شي
د وربښمو له چینجو نه جوړ پتنـــگ دی
پر غــاصب د آرام خوب دلته حـــرام دی
اوبدل شوی په مــارانو دا پلنــــــگ دی
بیا په یبــــــلو پښو د اور پر سر ولاړ یو
جهان اُف قدر هم نه کا ته وا گونــگ دی
د کاروان غـــــــــزل به څه تلې نقاده
د جانان په قـــــول یو موتېی لونگ دی
(کاروان، ۱۳۹۸: ۹۰۹) .

نهنگ د جابرو، ښکېلاگرو... لپاره **سمبول** دی. وچه د مظلومو ولسونو جغرافیې (افغانستان او نورې نړی) ته سمبول نیول شوی. نازک زلمي د وربښمو له چینجیو سره **تشبیه** شوي دي. د وربښمو چینجي وروسته په پتنگ بدلیږي او له اور سره لوبې کوي. مطلب دا چې دا نازک زلمي سختیو ته اوږه ورکولی او له وطنه ځان قربانولی شي. وجه شبه یې نازکوالی او له اور سره لوبه ده.

پلنگ د افغانستان/ د مظلومو د وطن لپاره **استعاره** ده. د وطن مدافع ځواک او د جابر پر وړاندې جنگېدونکو لپاره ماران د **استعارې** په توگه راوړل شوي دي. د غاصب کلمه د دواړو استعارو لپاره قرینه ده، چې د لوستونکي اورېدونکي ذهن دویمې مانا ته لېږدوي. ارام خوب د ارام ژوند لپاره **کنایه** ده. په یبلو پښو د اور پر سر درېدل د سختیو او تکلیفونو لپاره **کنایه** ده. جهان **مرسل مجاز** دی. د ظرف او مظروف رابطه ده. جهان ذکر دی، مراد ورڅخه د جهان خلك دي. اُف د درد او زړه‌سوي لپاره استعاره ده. د کاروان غزل د یو موتېي لونگو سره **تشبیه** شوی دی. مشترکه وجه د روح تازه‌گي او معطریت په گوته کېدلی شي.

ډک پاتې دي تیــــــــــونه د غزل د غزالانو
په غـــــشو لگــــېدلي د کبلیو په شان توري
راوینښ چې شي د حسن چین ماچین به راته نیسي
ویـــده لرم د زرو ښاپېریو په شــــــان توري
کاروانه چې غزل پښتــــــونوې پت به یې پــالې
پرده کــوي د پېــــــغلو جینکیو په شان توري
(کاروان، ۱۳۹۸: ۳۳۰) .

غزال(هوسۍ) د شاعرانو لپاره **استعاره** ده. د غزل کلمه هغه قرینه ده، چې ذهن ته د غزال(هوسۍ) پر ځای شاعر وریادوي. توري له کبلیو(د هوسیو بچي) سره **تشبیه** شوي دي. د غزل توري هم عاطفي کشش لري او کبلي هم په سړي خواږه لګي. شاعر ته د غزل توریو نه ورتګ په غشو لګېدلیو کبلیو سره مجسم شوي، داسې چې پر بوره هوسۍ او پرهرژلو کبلیو د سړي زړه پرې کېږي. چین ماچین هغه افسانوي جغرافیه ده، چې د بې‌ساري حسن مالکې(ښاپېرۍ) پکې اوسي. شاعر د غزل توري له زرو ښاپېریو سره ورته کړي دي. د چین ماچین او زرو ښاپېرو پر مټ **اسطوري** تصویر ایستل شوی دی. شاعر د پښتو غزل توري له پښتنو پېغلو سره **تشبیه** کړي دي. شاعر پر ځان لازموي چې د پښتو غزل توریو عزت وساتي، ځکه دوی داسې دي، لکه پښتنې جینکۍ. پښتنې نجونه په پټ او عزت کې ژوند خوښوي. د پښتنو نجونو عزت ساتل په پرده او حیا کې نغښتی دی. د تورو پرده دا ده، چې د بدو ردو لپاره ونه کارول شي، ادبي مفاهېم پکې راوړل شي.

ځای په ځای کرم د ګلو زړي په درزونو کې
څمه د اوبو غوندې په وچ کمــر کې لار کوم
لاس دې زما مات شي که به تا په کاڼو ولمه
سترګو ته لاس مه نیسه پر تا د ګل ګوزار کوم
زړه مې راغوځار شو د ګلابو په اغزو کې بند
ځــکه خو نه ذکر د څېړۍ نه د چنـــار کوم
رابه شـــــــــي آخــر ه زمـــا و غېږې ته
ګل به شم کاروانه یوه شنه سپرلي ته وار کوم
(کاروان، ۱۳۹۸: ۸۱۹) .

د ګلونو زړي کرل د خیر ښېګڼې لپاره **کنایه** ده. شاعر ځان د اوبو سره **تشبیه** کړی دی. د اوبو نرموالی د شاعر نرمه او پسته تګلاره وجه شبه ده. پښتو متل دی، چې نرمه غاړه چاړه هم نه‌پرې کوي، ځکه شاعر د نرمۍ او نورو ته د ښېګڼې رسولو خبره کوي. ګلان کرل او هغې ته اوبه ورکول، په خیر رسوونې تعبیر شوي دي. په کاڼو ویشتل د کرکې او په ګل ویشتل د مینې لپاره **کنایه** ده. په عین حال کې د **طباق(تضاد) بدیعي صنعت** هم واقع شوی دی. د لاس ماتولو خبره د مقابل لوري څخه د قربانېدلو مانا لري، چې عاطفه جذبوونکې انداز دی. سترګو ته لاس نیول د ځان بچکېدنې لپاره کنایه ده. ګلاب، اغزي، څېړۍ او چنار سمبولونه دي. هېڅ بهرنۍ قرینه نشته، چې استعاره یې معرفي کړي.ګلابونه د نېکانو، خیر رسوونکو، ښکلو، خپلوانو... ماناوې خپلولی شي. اغزي د بدانو، شریرو،

غمازانو/رقیبانو، دښمنانو... تعبیرونه لېږدوي. څېړۍ او چنار هم ګڼې ماناوې درلودلی شي. شاعر زړه‌توری شوی. دلیل دا راوړي، چې د ګلانو غوندې خلکو په څنګ کې چې اغزي وموندل شول، نو د څېړۍ او چنار غوندې خلکو تر څنګ خو به خامخا تاوانیان او شریریان وي. زړه راغوځارېدل د مئینېدو لپاره کنایه ده. وږمه د معشوقې لپاره **استعاره** ده. غېږې ته راتګ هغه قرینه ده، چې ذهن دویمې مانا ته وړي. ګل د عاشق لپاره **استعاره** ده. ګل ته د غېږ ځانګړنه ورکول **تشخیص** دی. د ګلونو وږمه‌یې خاصیت داسې نیول شوی، لکه د ګل په غېږ چې وي. د محبوب سره د وصل مهال پسرلی ګڼل شوی. په پسرلي کې ګل وږمه لري او په وصال کې عاشق معشوقه لري. پسرلی د وصال لپاره **استعاره** ده.

د تورو سترګو والو جینکو ته دې دیوال وي
دا چا وې چې د شنو سترګو کتلو ته وبال وي
ګومبزه وي د شنې زرغونې ناست یو پکې دواړه
باران په ګلـــو اوري او نری نری شمـــال وي
(کاروان، ۱۳۹۸: ۸۳۵) .

د خبرو پر مهال د چا مخې ته دیوال درول د نه‌لیدو، فناکېدو او د هغه/ هغې د احترام او حیا لپاره د **کنایې** په توګه ویل کېږي. متکلم د غایب په هکله د غندنې په دود څه وایي، خو په دغو ویلو کې داسې څه موجود وي، چې د مخاطب خاطر هم پې درنېږي. نو د مخاطب د زړه ساتنې لپاره متکلم په کنایوي ډول د دیوال خبره کوي. د یو هنرمند په مخ کې د بل هنرمند ستایل، د یو تجار په مخکې د بل تجار ستاینه، د کسبګر په مخکې د بل کسبګر ستاینه، د مخاطب غندنې لپاره کنایوي انداز دی. دغسې د تور سترګو جینکو پر وړاندې د شنو سترګو ستاینه هم درواخله. شاعر د تور سترګو له دښمنې څخه د خلاصون په خاطر د دیوال خبره کړې ده. د شنې زرغونې(رنګین کمان) ګومبزه **اضافي مؤکده تشبیه** ده. د بوډۍ ټال منحني شکل د کروي ګومبزې سره ورته شوی دی. شاعر په دغه ګومبزه کې د خپل محبوب سره د کېناستو هیله تصویر کړې ده، داسې چې پر ګلو له شمال سره مل نری باران هم اوري. دا د کاروان اشعارو ته په کتو مشت نمونه خروار غوندې کار دی. د ده باقي شاعري هم دغسې درقیاس کړئ.

**پایله**

د پورتنیو وضاحتونو نتیجه دا راوځي، چې هر هغه ادبي انداز، چې د یوې ژبې د بیان طرز ته نااشنایي ښښي او پر مټ یې یوه ژبه د یوې اړیکې په سبب په دویمه/مجازي مانا کې استعمال شي، د تخیل توکی یا د تخیل رنګ یې بللی شو. د ذکر شوو نظرونو د پرتلیز جاج په پایله کې ویلی شو، چې تشبیه، استعاره، سمبول، مرسل مجاز، کنایه، هغه مهم او بنیادي توکي دي، چې په مرسته یې تخیل د اظهار جامه اغوندي. هېره دې نه وي، چې د مرسل مجاز او کنایې په پرتله تشبیه، استعاره او سمبول ډېر هنري ځواک لري. ځینې نور هنري مکانېزمونه، لکه حسامېزي، پاراډوکس، تشخیص، تمثیل، اسطوره... د تخیلي دیوال خښتې ګڼل شوې دي. اصلاً دوی هم د تخیل د اساسي توکو په مرسته رغښت مومي. مثلاً تشخیص په حقیقت کې یو سمبول دی او تمثیل هم استعاروي کیسه. دغسې په اسطوره کې ښاپېرۍ او دېو د فوق طبیعي ښایست او ځواک لپاره سمبولونه دي. ځینې ادبپوهان په دې باور دي، چې د تشبیه لنډه شوې بڼه استعاره او د استعارې اختصار شوی شکل سمبول دی.

**مناقشه**

د دې څېړنې موندنې دا دي، چې تخیل د شعر تر ګردو مهم عنصر دی. تشبیه، استعاره، سمبول، تمثیل، اسطوره د تخیل هغه توکي دي، چې ډېر هنري قوت لري. مرسل مجاز، کنایه، پاراډاکس... دویمه درجه هنري زور له ځانه سره لري.

د کاروان په شاعرۍ کې د تخیل ټول توکي شته؛ دا کچ و مېچ نه‌دی معلوم، چې کوم ځینې یې د ځینو نورو په پرتله ډېر موندل کېږي. دلته د کاروان اشعارو ته په کتو مشت نمونه خروار غوندې کار شوی دی. د ده باقي شاعري هم دغسې درقیاس کړئ.

**اخځلیکونه**

الفت، ګل پاچا. (۲۰۱۲م). د الفت نثري کلیات، څلورم چاپ، د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه: دانش خپرندویه ټولنه.

ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۷). پښتو نظم پوهنه، جلال آباد: د ختیځ خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه، علومو اکاډمي او د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځی.

ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۸). ادب تیوري، لومړی چاپ، جلال آباد: ختیځ خپرندویه ټولنه.

درمل، احسان الله. (۱۳۹۵). شعرستان، لومړی چاپ، کندهار: بېنوا فرهنګي ټولنه.

زاهد مشوانی، عبدالقیوم. (۲۰۱۰م). پښتو ـ پښتو سیند، دریم چاپ، کابل، اسد دانش مطبعه: دانش خپرندویه ټولنه.

شېرزاد، محمد آقا. (۱۳۹۵). ادبي فنون(بدیع او بیان)، جلال آباد: میهن خپرندوی اداره.

غضنفر، اسد الله. (۱۳۹۳). جادوگر هنر، لومړی چاپ، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

کاروان، پیر محمد. (۱۳۹۸). نغمه زېږدې زمانې، د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته اخېستلو د سلم کال په ویاړ، چاپ شوي کلیات.

ناګار، فضل ولي. (۱۳۹۵). د بیان علم(ادبي فنون)، لومړی چاپ، ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه